


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



مجيب الرحمن « خطيبي »

د نشر نيټه : 8 سپتامبر 2015 م

# افغان وايي

نه مې ګناه نه مې جفا مالومه
نه مې ژړا نه مې خندا مالومه
د ظلم غشو مې ټټر سورى کړ
نه مې خطا نه مې جزا مالومه
د ژوند په بڼ کې مې چوپتيا خوره ده
نه د بلبلو شور ، غوغا مالومه
له غمه دوست کله اغيار ته ژاړم
نه غمخواري نه دلاسا مالومه
انصاف بازار کې له هرڅه نه تيريم
نه مې هم بيه نه سودا مالومه
مدام په لاس کې مې تسبيح ګرځوم
نه مې ريا نه مې دعا مالومه
د مجيب بند په بند اندام ژړيږي
نه يې هم رنځ نه يې دوا مالومه
***
مجيب الرحمن « خطيبي »

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org